# د ازمېښت دولې

Ketabton.com

لیکوال: اجمل اټک یوسفزی

1387 لړم، پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ځانګړنې:

||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب نوم: د ازمېښت ډولۍ

لیکوال: اجمل اتېك یوسفزی

د کمپیوټر چارې: ذبیح الله "وردگ"

خپرندونه ټولنه: خښې کولتوي - ټولنه

چاپځی: پېښور

شمېر: 500 ټوکه

نېټه: 1378 لږم

د بیا خپریدا واك یې له نوموړې ټولنې سره خوندي دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډالــۍ!

هغو مېندو ته چې د زمريو په څېر اتل بچي يې زېږولي او هغو پاك لمنو پښتنو پېغلو ته چې :

چا يې پلو ليدلی نه و

اوس د جمرود په غاښي ځي سرتور سرونه

ستا د مزاج علاج په طب او فلسفه کې نشته

که د کامې شي، د بلخ نه ابن سينا به څه کړم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستغ شمشاد او د تنځاکو پنځې

دا د عالم، شاعر او قلموال اروانباد شهید محمد موسی شفیق د قلم د ځیگر وینه ده. چې له \"پېغامه\" یې څڅېدلې او ما د خپلو دغو یو څو کرښو د توریو لپاره ځکه بنسټ کړه، چې شهید شفیق پکې د شاعرانه تعلی پرځای ځانگړې سیمې ته له نه انتساب او تړاو سره سره یې یوه سیمه ییزه یا کامه واله تعلی کړې ده شفیق شهید وایي :

دا خو لا حکیم او نباض ابن سینا د بلخ و که د هغې کامې هم شي، چې د مراد علي صاحبزاده، علامه غلام نبي کاموي، مولوي محمد ابراهیم کاموي، مولینا خادم (د کامې د یونان اپلاتون) او ... نورو پوهانو، روحانیونو، قلموالو او شاعرانو زانگو راغلې ده، (زما محبوبې!) هم به دې څوك د دې تنکي او نازك مزاج درملنه ونه کړای شي .

خبره تړوله د کامې راغله او پر ما باندې د لیك پور هم د داسې یوه کامه وال دی، چې کاشکې یا دی کامه وال نه وای او یا د کامې ورېښمینې وږمې زما زانگو نه وای؛ نو د دغه تنکي کامه وال قلموال پرتنسته او بوده به مې ښه په ارت مټ او د نقاد د تقدد جراحۍ له اندېښنې پرته د خپل رنځړي قلم د ځبېښلې وینې رنگ وچ کړی وای، خو هغه وای چې توکل نر دی او اندېښنه ښځه .

او دهغه چا په باب د قلم نیلي ته پونده ورکوم، چې د خپلې هغې بدمرغه او سیاست ځپلې تپولنې یو استازی قلموال دی، چې د قلم، کتاب، ادب او فرهنگ مخ پکې د سیاستونو دوه لسیزو ځپېړو داسې سور اړولی، چې شین هم شو، خو مخسوری نه شو او پرله پسې او ناستومانه فرهنگي تنده او لېوالتیا یې دا انځور وي. چې لکه د همدغه کلتوري ناخوالو درملنې ته چې سرپر زنگانه وي. چې زه یې په دې منگ کې د ادبي پرمخیون په لوبغالي کې دومره گړندۍ وده یوازې له خپلې ژبې او فرهنگ سره د لېونۍ او سپېلنۍ مینې له برکته بولم او وراشه (دلیل) یې هغه راوړم چې اروانباد پوهاند رشتین چې د کوربه توب پر وخت په جلال کوټ کې یوه هندوستاني پښتوپال (پرگومان) \"منوهرسنگ بترا\" ته ویلي وو .

"\مونږ چې ستا دومره درناوی کوو، دا د پښتو له برکته دی، گنېگ جلال کوټ له هندوانو ډك دی."\

احمل یوسفزی له پښتو سره سیاسي مینه په وینه کې راوړې او د چا خبره په میراث کې ورته پاتې ده، خو د پښتو ادبي فرهنگي پېریان پرې د مولینا خادم او شهید شفیق، د کامې له \"فاقه\" راغلي دي .

اجمل یوسفزی په لږ مهال کې د ادبي هڅو د یون (سفر) ستوماني د طالبي چارواکۍ په پړاو کې وایسته، یعنې وده یې د ادب له کاله پیل شوه او د نامه او شهرت سر یې د طالبانو د باور له گرېوانه راووت، چگې په دواړو برخو کې پرې زمونږ باور دی، چې خپله لار به نه ورکوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته چې تاسې زما کومې ګډې وډې پر کوم اثر لولئ، دا د هغه د لومړني اثر په توګه د ده د زېږني (ایجادي) ادب د امېل یو څو لاړونه دي، چې خپلو لوستوالو ته یې د لنډو کیسو په تار پیلي دي، ښې دي که بدې، زه پرې د خپلې څېړنې خوندیتوب بل وخت ته پرېږدم، چې دا ډېرې نازکې ښکارې، خدای مه کړه له نور مزله پاتې نه شي .

د پښتو ادب او پښتني کلتور د ښکلا او ښېرازۍ لپاره د همدغې یو اجمل ښوال د ناستومانۍ او روغمنۍ په هیله .

محمد آصف صمیم

1378-8-17

بخشي پُل، پېښور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فاضل سره ډولۍ

ایکي جان اکا چې زمونږ په کلي کې تر ټولو پخوانی اوسېدونکی و د پلار تر مرگ را وروسته یې د خپل کور مشري کوله. له یوې خوا د غریبۍ او له بلې خوا د یتیمۍ او بې کسۍ سخت ژوند داسې ځپلې و چې په ځوانه ځوانی کې د یو بوډا او کمزوري سپین ږیري په څېر ښکارېده. ایکي جان اکا واده کړی و خو د خدای(ج) داسې پېرزوینه وه چې ټولې لونې یې د ده په برخه کړې وې ایکي جان اکا له لونو سره سره د زوی پلارولي ته هم ډېر لېوال و څکه چې د خپل سترې ستومانه ژوند راحت یې د زوی په متو کې لیده، د همدې هیلې د ترسره کېدو لپاره یې له دود سره سم خپله لور د ینگر ماما زوی ته ورکړه او په بدله کې یې د ینگر ماما لور ځان ته په نکاح کړه، تر واده وروسته خدای(ج) د سپین ږېري ایکي جان اکا هیله تر سره کړه او په پرله پسې توگه یې زامن ورکړل د سپین ږیري اکا په شونډو ځوانه موسکا نڅېده او په تندي کې یې خوښیو چورلکونه او څرکونه وهل، د ایکي جان اکا د نېکو او ښو اخلاقو له مخې چې له کلیوالو سره به یې کول د خدای)ج) پدې ورکړې ټول کلیوال خوشحاله ښکارېدل، د خوښیو شېبې وې د کلیوالو په شونډو لا موسکاوې خورې وې چې په نا ببره توگه کمونستانو زمونږ په پاکه خاوره خپلې منگولې ښخې کړې او د واگو پر تخت کښېناستل له ناستې سره سم یې زمونږ په بېوزلو هېوادوالو وهل، ټکول، وژل، ژوندي خښول، بې پته کول پیل کړل او حتی له مسلمانانو نه یې په ژوندوني د نوکانو او وېښتانو ویستل پدې نامه پیل کړل چې مسلمانان گوندې د پرنگیانو غلامان دي او برسېره پر دې یې په رنگ رنگ نورو نادودو هم لاسونه پورې کړل زمونږ مېړنی ولس چې تل یې د ښکېلاك او زبېښاك دنکې مانی ورړنگې کړي یو ځل بیا د لوی خدای(خ) د قربانۍ په ازموینه کې ورپرېوت .

ډېرو د دغې رولهي ازموينې د بريو په هيله د خپلې خوږې خاورې پرېښودو ته زړونه ښه کړل د خپل ژوند ټول شته او پانگه یې د خدای(ج) د رضا لپاره پرېښودل او د پیغمبري(ص) سنت (هجرت) لار یې ونیوه، د دې مېړني ولس ډېر بچي د لار په اوږدو کې د سیندونو، غرونو، دښتو او گړنگونو قرباني شول .

ایکي جان اکا چې د همدې مېړني ولس یو سپېڅلی بچی و هغه هم د خپلو پاکو احساساتو له کبله مهاجر شو. له ډېرو کړاونو، شوگیرو، لوږو تندو او در به دریو نه وروسته خدای(ج) پرې ورحمېده او په یوه کمپ کې د یوه ټوټه ځای او خېمې خاوند شو. یکي جان اکا په سپینه ږېره په نا اشنا او نابلده ملك کې د نفقې د پیدا کولو په خاطر متې راونغاړلې او د مسافرت د ترخو شپو ورځو د سباکولو په منظور یې هر راز مزدورۍ ته ملا وتړله. کله به یو ځای او کله به بل ځای په مزدورۍ پسې ورك و کله به یې په سپینه ږیره ډېر درانه، درانه کارونه هم کول او کله به داسې وخت هم و چې ورځ مزدوري په پیدا نه شوه به لوږه به یې شپې تېرولې په یکي جان اکا هغه ترخې شپې، ورځې ترېدې چې خدای(ج) یې وړوکی زوی را ځوان کړ. د اکا دغه مشر زوی چې فاضل نومېده داسې یو ناړامه او زړور ځوان و چې په همزولو کې یې سیال نه و د خدای(ج) له کړونه ځار شم له ورکوټوالي یې د هغه په رگونو او زړه کې د جهاد مینه ورځای کړې وه فاضل تر هر څه د مخه جهاد خپله دنده گڼله او همدا و چې له زلمیتوب سره سم یې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان د خپلو هغو ورونړو څنګ ته ورورسولو چې په کامه کې د تاوده سنګرونو ساتونکي وو. فاضل چې د جهاد خوند څکلی و داسې یې بې سده کړی و چې خپل واړه ورونړه، مور او اّن خپل سپین ږیری پلار یې هم هېر کړ په میاشتو، میاشتو به په سنګر کې پروت و له ډېرو ځوابونو او لیکونو وروسته به کله نا کله اړ شو د مور، پلار د لیدلو لپاره به کور ته په داسې بیړه راستنېده، چې د لږ مهال له تېرېدو وروسته به بیا له مور او پلار نه په پټه د سنګر پر لوري ستنېده .

خو له دې ټولو ستونزو سره سره د فاضل مور، پلار پدې خوښ وو، چې زوی یې د خدای(ج) تعالی سپاهي دی او د اسلام له دشمنانو سره په حقه جګړه او مقابله کوي .

یکي جان اکا د خپل پېداېښت راهیسې غمونو ځپلی و، د خپلې غم ځپلې کورنۍ د خوشحالتیا په خاطر یې فاضل ته کوژدن وکړه او خپل ټپي، ټپي زړه یې د دغو خوښیو په مرهمو جوړ کړ، ایکي جان اکا د خپلې پوره خوښۍ او راحت په خاطر د واده نېټه هم رالنډه کړه، د سودا په رانیولو یې لاس پورې کړ، اکا د فاضل او نورو دوستانو په مرسته سواد پوره کړه، خو فاضل ته خپلې هغې لېونۍ مینې چې په رګو کې یې ګرځېده د واده ټاکلې نېټې تر رارسېدو پورې په کور کښېناستلو اجازه ورنه کړه او دېخوا په شان یو ځل بیا د لنډې مودې په نیت د شین زمري په څېر د کامې په لوري لاړ پدې کې د الهي ذات پوره حکمت و. د فاضل واده ورته منظور نه و شپین ږیری اکا یو ځل بیا خدای(ج) په خپل ازمېښت کې واچوه. دا ځل بیا فاضل د خپل عادت له مخې له ډېرې زړورتیا نه کار واخیست پر کمونستانو یې برید وکړ او پر کمونستي مورچل د نېغ ختو په هڅه کې و چې بې رحمو کمونستانو دغه شازلمی د

حنظله (رض) په څېر د غلبېل غونډې سوری سوری پر ځمکه راګوزار کړ او دشهادت ویاړ یې ور به برخه کړ. د دغه ځلانده لمر په پرېوتو پر ټولې جبهې او چاپېریال د غم ماښام را خپور شو مجاهدینو دغه په وینو لمبېدلی او د خدای نازنین شازلمی په کټ کې واچوه او د اوښکو په څڅوب یې تر کوره بدرګه کړ. د واده په جوړ شوي مجلس یې د چمبو او سندرو پر ځای د غم او ژړا تندر را پرېوت. دهغه ځوان د غم تندر چې مور، پلار او خپلوان یې د سرې جنازې پر ځای د سرې ډولۍ په تمه وو د هغه شازلمي غم چې مور او پلار یې د سلګیو او ژړاوو پر ځای د چمبو اوازونو او سندرو ته غوږ په آّواز وو .

د دغې پېښې په لیدو سره بې کسي او بې وسي صابر او سلمان سپین ږیري اکا یو څو د غم مرې، مرې ترمې اوښکې تویې کړې او بیا یې په خوښۍ د خدای(ج) شکر پر ځای کړ. د واده لګښت یې په خپل ځوانیمرګ زوی پسې د خدای(ج) د رضا لپاره خیرات کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ثواب اکا ارمان

ثواب ګل کاکا له ډېرو خوارۍ او غریبۍ او په تېر عمر له ډېرو کړاوونو او ستونزو نه وروسته په دې بریالی شو چې له یوې بې کسې او په پښو شلې ښځې سره نکاح وکړي. دوی په خپلو منځو کې داسې خوږه مینه کوله چې سیال یې نه و د کلي ټول خلك د دوی دې بې کچه خوږې مینې او محبت ته ګوته په غاښ وو کرونده ګرو ته به یې ښځو کروندو ته ناري او ډوډۍ وروړلې ثواب ګل کاکا به په دغو وختونو کې پخپله کور ته راتلو او په کور کې به یې سبناری کولو له ډېرې مودې وروسته خالق تعالی دوی ته یو زوی ورکړ. ثواب ګل کاکا او ښځې به یې د خپل ماشوم زوی پالنه په ډېره مینه کوله او د خپلې برکې اچۍ غواشیدې، مستې، پیروي او کوچ به یې پرې خوړل. د وخت په تېرېدو سره خان هم غټکی شو، پلار به یې کله ناکله په غوایانو پسې کاوه او د کولبې جلب به یې ورکوه خان ورځ په ورځ مخ په ځوانېدو. د مور او پلار د ارمانونو همدا یو ډکی و ثواب ګل کاکا چې له مودو راهیسې پدې هوس کې و چې کله به یې زوی زلمی کیږي چې واده کوژده ورته وکړي. که څه هم خان لا پوره زلمی نه و خو ثواب ګل کاکا غوښتل چې د ینګور او لمسو خاوند شي. له خپلې شلې ښځې سره یې سلامشورې کولې چې د خان لپاره د خپل ګاوندي په لور (ښاپېرۍ) چې د خان هم خوښې ده جرګه وکړي یوه ورځ ثواب ګل کاکا له موقع نه ګټه پورته کړه او خپل ګاوندي ته یې په جومات کې د لمانځه له ادا کولو وروسته کله چې خلك ټول خواره شول رایاده کړ، له اسلم نه یې د خان او ښاپېرۍ د ګډ ژوند غوښتنه وکړه له لږ ځنډ وروسته یې وویل خبره خودې ښه ده خان ډېر کاریګر او ښه هلك دی خدای(ج) شته زما هم خوښېږي او رضا مې ده خو مطلب دا چې تا ته خو ښه جوته ده هر څوك چې ماته د پښتو په حساب زما له تربورانو نه زیات ولور راکړي کوم چې هغوی په خپلو لوڼو اخیستی دی بس لور مې د هماغه ده او ته خو زمونږ خپل سړی یې که دغه شرط پوره کولی شې زما رضا ده خو ثواب خانه تا سره چېرته دومره وس شته او که وي دغه تور توتان له تاقربان.

ثواب ګل کاکا کور ته راغی خان او د هغې مور ته یې ټوله کیسه وکړه خان وویل پلار جانه ښه ده ته خپله کرونده سنبالوه زه به لاړ شم او په ښار کې به چېرته نوکري پیدا کړم څه به داشي څه به هغه بیا که د خدای(ج) رضا وي کار به راجوړ کړو خان چې کله مسافري هم نه وه کړې او نه یې څوك پېژندل یو دوه اونۍ یې په جوماتو کې او نورې ورځې یې په یوه او بل ځای کې تېرې کړې، له ډېرو کړاونو وروسته د خپل یو کلیول په مرسته په یوه روغتون کې د څوکېدارۍ په دنده وګمارل شو پلار به یې وخت ناوخته پوښتنه کوله ډېره موده تېره شوه یو څه پېسې یې په ډېرې سختۍ لږمون خوړینۍ او بې خوبیو لاس ته راوړې، کلي ته راغی مور یې له یوې خوا ډېره خوشحاله او له بل پلوه دا چې د زوی رنګ یې ژېړ او د مخ هډوکي یې وچ وچ راوتلي، چاودلې شوندې او د خوارۍ څېرې په لیدو سره یې ډېره خواشینې او ژړغونې ښکارېده ورځ یې په پوښتنو پیګنو، ژړا او موسکا تېره شو، شپه راغله د ثواب ګل کاکا او ښځې یې هېڅ وار نه کېده او غوښتل یې چې د ستي د اسلم اکا کور ته له یو څو سپینږیرو سره ولاړ شي ولور معلوم کړي او دسمال راوړي خو له ډېرې بیړې او تلوار سره سره یې پدې سلا راغله چې سبا ته که خدای(ج) خیر کړ د مازیګر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لمانځه وروسته به ثواب ګل کاکا د سپین ږیرو سره د اسلم اکا کرو ته ولاړ شي او د سپین ږیرو له خبرو اترو او جرګو وروسته به ترې دسمال راواخلي .

خان چې سترې شوی و په وخت خپل کټ ته وخوت له یوې شېبې چرتونو او خیالونو وروسته یې سترګې خوږې شوې او خوب پرې غلبه وکړه له ډېرې خوښۍ او هیجانۍ نه ګهیځ وختي ثواب ګل کاکا او ماندینه یې له ډیرو اُمیدونو او هیلو سره یو ځای راپاڅېدل په ډېره مینه د یوه دسترخوان په څندو کې راټول او د چای په څښکلو یې پیل وکړ خان لا پیالې ته شونډې نه وې نږدې کړې چې په کلي کې د ټوپکو ډزې شوې. دوی هم په ډېره بیړه له کوره رابهر شول چې وګوري څه پېښه ده، ثواب ګل کاکا د سپین ږیرو سره له روغبړ نه وروسته پوښتنه وکړه خدای(ج) دې خیر کړي څه پېښه ده؟ یو ډزې کوونکي ځوان غږ کړ د اسلم اکا کور نه مو دسمال واخیست خپله لور یې زما ورور عجب ګل ته ورکړه، د همدې غږ په اورېدو سره د خان سره په چورلېدو شو پر ځمکه راپرېوت او تندی یې په خنډینه ډېره ولګېد، حال یې بل شان شو د تن جامې یې څېرې او یو غږ به یې له خولې پورته کېده چې ای وروره ای وروره او بالاخره هغه نازولې شازلمی لېونی به بیا د کلي ماشومانو په ډبرو او لوټو ویشته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کونډې واده

له څو ورځو راهیسې هلته جرګې او مرکې روانې وې ډله ډله سپین ږیري به کېناستل پاڅېدل او کله به د زلمي سپین سرې مور هم تله راتله ، خو خبرو څه پایله نه ورکوله، کله به یې ورته یوه پلمه او کله بله کوله د زلمي پلار هم په خپل قام کې هېڅ داسې څوك پرېنښودل چې یوځل یې د مرکچي په توګه د هغوی کور ته نه وي بیولي احمد کاکا خپله همدا یوه خبره بیابیا هرې جرګې او ډلې ته کوله چې مونږ هم د ناوې غوښتونکي یو خو د زلمي پلار دا نه منله ویل یې چې زما لور ستاسې حیا او ناوې ده خو لا وړه ده سږ کال مونږ ته واده راکړئ او کال ته که د خیره ژوندي وو تاسې خپل واده وکړئ ځکه چې ملالۍ لا وړه ده خو بالاخره وروسته له ډېرو جرګو، شرطونو او د سپین ږېرو د ضمانتونو احمد کاکا دې ته راضګي کړ چې واده ورکړي د زلمي په کورنۍ بې وخته اختر شو، سم د ستي یې د سودا په رانیولو پیل وکړ خورنې او نږدې خپلوان یې له پرېکون نه څو ورځې مخکې راوغوښتل په دېرو، حجرو کې د منګیو او ربابونو اوازونه پورته شول اتڼونه پیل شول د کور نه هم د چمبو اوازونه راتلل په کلي کې د ماشومانو میلې او شور ماشور شو او خدای د دوکاندار بابا د سودا د خرڅلاو لپاره د ماشومانو قافلې را ماتې کړې د جمعې ورځ د نکاح ورځ وټاکل شوه چې په دغه وخت کې زلمی له خپلو ملګرو سره د جهاد سنګر ته تللی و ماما یې سم د لاسه جبهې ته لیك واستوه او لیکلي یې وو چې زلمی دې تر پنجشنبې حتمي ځان کور ته راورسوي چې د جمعې ورځ د ډولۍ ورځ ده به همدغه شپه چې لا لیك نه و رسېدلی د روسانو ډېره لویه قوه راغله مجاهدینو ورباندې د تکبیرنو په شور او زوږ او په ښه مېړانه غزا پیل کړه. مجاهدین چې ټول 21 تنه وو د خدای پاك په مینه مست او داسې بېخوده وو چې د مرګ او ژوند خو ورسره هېڅ خیال نه و. مازیګر جګړه پیل شوه تر چرګ بانګه جګړه ورو، رو سړه شوه او تر سهاره قوه درې ورې شوه، کوم ټانګ نیم چې روغ پاتې و ایله په تېښته بریالي شول له ډېرو ټانکونو نه لوګې پورته کېدل په هر ځای کې روسان په وینو کې

لت پت مړه پراته وو. درې تنه ټپي شوي روسان ژوندي ونیول شول او پاتې نور په تېښته تښتېدلي وو، خو الوتکو لا د باران په څېر بمونه اورول. مجاهدینو له خپلو سنګرونو نه د میدان په لوري د زمریو په شان رادانګلې او په نوراني مخونو کې یې خوښۍ او خوشالۍ موجونه وهل او د یرغلګرو پر کالبوتو او جسدونو ګرځېدل د خوښییو زوږ او تکبیرونه وو یو بل ته یې مبارکۍ ورکولي. یو څه موده لا تېره نه وه چې د زمري تر غوږو زګیروي او ستمونه شول په ډېرې بیړې او هیبت سره یې د خور پر لورې وروځغاسته نورو مجاهدینو هم منډې کړې ګوري چې هلته سیلاني او نور ګلاب دواړه ټپیان پراته دي په دې وخت کې قومندان پوښتنه وکړه چې نور څوك خو زمونږ په ډله کې کم نه دي ناڅاپه د کوچې پام شو او سم د لاسه یې غږ کړ اخ زلمی نه ښکاري لکه چې شهید شوی وي هلې ویې لټوی لږ وخت لا تېر نه و چې یو مجاهد چیغې کړې هلئ ای زر شئ راشئ زلمی دا دی. په همدې وخت کې د زلمي په خوله کې وروستۍ سلګۍ وه چې د قومندان تر زنګون یې ورسوله. مجاهدینو په کټ کې واچوه اود کور په لور یې جنازه روانه کړه، کله چې کلي ته نږدې شول له ورایه مجاهدیو په دېرو کې د وګړیو ګنه ګوڼه ولیده مجاهدیو فکر وکړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کونډې کلیوال د زلمي له شهادت څخه خبر شوي دي کلي ته چې لږ نور هم را نږدې شول د چمبو غږ یې تر غوږو شو په دغه وخت کې چې د زلمي پلار برکلي ته په نایي (ډم) پسې تللی و په پټیو کې راروان و ناڅاپه یې پردوی نظر شو په بیړه بیړه یې ځان د دوی خوا ته راورسوه او په بیړه یې پوښتنه وکړه چې دا شیهد څوك دی؟ له پوښتنې سره سم یو مجاهد چې دا یې نه پېژنده چې کونډې د زلمي پلار دی ویې ویل کاکا دا د شهید زلمي جنازه ده! پلار یې د دې غږ د اورېدو سره سم له ولاړې نه پر ځمکه راولوېد نورو مجاهدینو چې دا یې پېژنده غږ یې کړ دا د زلمي پلار دی په دغه وخت کې د دیرې ناستو خلکو هم رامنډې کړې شهید یې د ګاوندي کور ته یووړ د خیرات او قبر کار یې د کلي خلکو تر سره کړ، تر ډېره وخته د شهید په کور کې ماتم جوړ و .... ورځې اونۍ او میاشتې په منځ کې تېرې شوې که څه هم د زلمي غم د هېرېدو نه و خو خدای(ج) انسان ته تسکین ورکوي، د زلمي کشری ورور بریالی چې هغه خواږه کی هم د هجرت تنګسو او ناخوالو زبېښلی و مدام به ناورغه و او د مور او پلار د اُمیدونو یوازینی ډکی و .

دغه وخت چې ډېره موده په منځ کې وتې وه احمد کاکا د خپل زوی زېږ ګل د واده په هکله د زلمي د پلار پسې تلو راتلو مشرانو پرېکړه وکړ چې د زلمي کونډه دې د هغه ورور بریالي ته په نکاح شي. بالاخره د دواړو د ودونو پریکون وشو، د ډولیو د بدلولو ځای هم د جرګې مشرانو وټاکه. وروسته له اوږدې مودې یو ځل بیا د شهید زلمي په کورنۍ کې خوشالي شوه له کوزې باندې نه هم د چمبو اوازونه راتلل د پخوا په شان بیا په کلي کې د ماشومانو هاها شروع شوه. شپه تېره شوه سهار وختي مانځه مهال هر څوك خپل کار ته ودرېد. تر لمر څرك پورې اّلوګان، غوښه او پیاز پاك او باندې شول او وریجې هم باندې شوې، د لمر تر راپورته کېدو وروسته د مېلمنو راتګ پیل شو د کلي خلکو دېرې اوپاشي کړې وې اوپه ترتیب سره یې کټونه اچولي وو، بالښتونه په کې پراته وو د ډوډۍ پروګرام په ښه شان سره پیل شو او کلیوالو ټول مېلمانه په قدر او عزت سره وپالل، ټاکلی وخت چې رانږدې شو د ولس خلکو شاوو (زوم) او ډولۍ راوویسته، پښتنو زلمو هم خپلې ټوپکې او له کارتوسو ډکې کردنۍ تر ملا وو وتړلې او په اتڼونو شور او زوږ سره کله له شاوونه مخکې او کله وروسته د ټاکلي ځای په لور له خپلې ډولی سره روان شول، په همدې هاّ هاّ کې دوی د ملك کا کا ژرندې ته نږدې شول، احمد کاکا دوی لږ پخوا ټاکلي ځای ته رارسېدلي وو. د دوی په لیدو سره جوخت یې د خوښیو په ډزو لاس پورې کړ، د بریالي ملګرو هم د پښتو دود له مخې د هغوی ډزې بردګه کړې په دغه وخت کې چې ګلاب د چرسو چلم څکولی و غرق نشه و او سترګې یې د خونکارانو په څېر سرې، سرې وې او په د ډزو یې پیل وکړ، په لاسونو کې یې د مه نه وه د تومانچې خوله ترې را ټیټه شوه، بریالی په سرولګېد او پر ځمکه راپرېوت .

جلالکوټ 1373 / 29 /مرغومی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ازمېښت ډولۍ

وايي چې د يو ملك پاچا چېگ زامن يې نه درلودل او ډېرې لوڼې يې درلودې آوازه شوه، چې پاچا ناروغه شوی او دا يې د خپل خدای(ج) سره ژمنه وکړې، که ښه شو؛ نو خپله کشرۍ لور چې ډېره پرې گرانه ده د نذارنې په توگه په يوه سره ډولۍ کې کښېنوي ناوې به يې کړي او په صحرا کې به يې ډولۍ کېږدي او هر څوك چې پرې راپېښ شو هغه ته به يې په نكاح کړي او د خپلې پاچاهۍ واگې به ورته وسپاري خلکو چې دا اوازه واورېده، ټول زاړه او ځوانان له کورونو څخه د صحرا په لوري د ډولۍ په لټه کې شول، پلار له زوی نه، زوی له پلار نه او ورور له وروره يو له بله په بيړه، بيړه د ډولۍ په لټه کې مخکې کېدل، شاړې او صحراوې د ميړو په څير له خلکو نه ډکې شوې لږ وخت لا تېر نه و چې ځينو له وريه سور شال"سره بنارسۍ" وليده منډې شوې، هر يو چې به مخکې شو نورو به ټينگ کړ او ځان په يې ترې مخکې کاوه نورو، چې دا گڼه گوڼه وليده، پوه شول، چې د ډولۍ ځای همدا دی، لنډه دا چې ټولو ډولۍ وليده، هېچا نه غوښتل چې بل ترې مخکې شي، په خپلو کې په جگړه شول، هېڅ يو ډولۍ ته نه شولنډېدای، يو چې به لنډ ورغی نورو به پرې توپ کړ، وهل، ټکول به يې وکړل او ټول به د يو بل له لاسه د مرگي ښکار شول. د ډولۍ په شاوخوا کې دومره ډېر شازلمي، زاړه او سپين ږيري ډولۍ ته د رسېدو په تمه ښکار شول، چې هېڅ اټکل يې نه کېده، ان تر دې نيږدې وه چې د ټول قام نارينه وگړي تباه شي خو پاچا چې دغه کار د خپل قام د ازمېښت لپاره کړی و دا يې نه گڼله، چې گوندې قام دې دومره بې اندازې د واگو او واك دومره تږی وي چې پلار دې زوی او ورور دې ورور قتل کړي .

خو پاچا بيا هم په وخت له ډېر قوت نه کار واخيست، لښکرې يې تيارې کړې او د ازمېښت هغه تشه ډولۍ يې په ډېرو مشکلاتو له ډاگه راپورته کړه او خلکو ته يې وښودل چې په ډولۍ کې هېڅ نه شته او د خپل قوم انصاف او ايماندري ورته په ډاگه جوته شوه .

1374زمری 4، لره پښتونخوا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ځان قاتل

دخدای(ج) کړو ته ځینې وخت سړی حیران شي په رښتیا چې هر څه ورکړه راکړه د هغه (ج) په اختیار کې دي او که د همدې مهربانه پاچا رحم نه وای؛ نو د فیروز غوندې د غریب سړي زوی چېرته کولای شول چې په لیك او لوست برلاسی شي فیروز که څه هم د کونډې زوی و او له ورځنیو ستونزو سره لاس او ګرېوان و خو له دې سره یې بیا هم لیك او لوست ته شا نه کړه او له ډېرو ستونزو او ناخوالو سره یې وکړای شول چې له ښوونځي نه په خورا لوړه درجه فارغ شي تر فراعت وروسته فیروز غوښتل چې لوړې زده کړې هم وکړي، خو د وړپېښو ستونزو له مخې یې ونه کړای شول چې دوام ورکړي له ډېرو منډو ترړو عریضو او ستومانیو وروسته په یوه اداره کې د مامور په توګه وګمارل شو، د فیروز رتبې ورځ په ورځ د هغه د ځانګړي استعداد او پوهې له مخې چې خدای پاك ورکړی و لوړېدې د فیروز غمونه او کړاوونه سپك شول او هم یې په تیاره قسمت کې د خوشالۍ او خوښۍ لمر په پړقاشو او د شپو ورځو په تېرېدو یې ژوند هم په ښه کېدو شو .

او له خپلې یوې پېغلې همکارې سره یې خپل ژوند شریك کړ، دوی به هر سهار په ډېره مینه او خوښۍ سره یو ځای دفتر ته تلل، له رسمیاتو وروسته به هم یو ځای کورته راستنېدل، تر ډوډۍ او استراحت وروسته به کله ناکله مېلو او بازار ته تلل پر فرش او ظرف سربېره یې داسې انتیك او مودرن شیان د کور د ښکلا لپاره هم اخیتي وو. چې حتی ډېر خلك ور سره نا اشنا وو او د ماشومانو د لوبو خو هېڅ داسې شی نه وپاتې چې هغه دې فیروز خپلو وړو ته نه وي اخیستي پر فیروز خپل ماشومان ډېر ګران وو، دومره نازولي یې ساتل چې حتی هېڅکله یې چا ژړا نه وه اورېدلې. د فیروز د ټولو ښو عادتونو څخه یو ښه عادت دا و چې هغه له هېڅ کوم سیاسي ټولګي سره تړښت نه درلود او تل به یې د نورو سوداګانو تر څنګ کتابونه هم اخیستل او لوستل به یې او بیا به یې د خپل کور په کتابتون کې ځای پرځای کول. د فیروز ژوند ښه جوړ شوی و د ځورېدلي زړه د اُمیدونو غوټۍ یې په غوړېدو وې او له خپلو ماشومانو سره به یې په خندا او خوښۍ شپې ورځې تېرولې چې د ملك په وچه د خونړي انقلاب سېلاب بیا راپورته شو او یو ځل بیا یې د ډېرو بېوزلو او خوارانو هیلې تر خېټې لاندې کړې، د پنځه، شپږو رئیس جمهورانو پاچاهی شوه، بې امني او ګډوډي رامنځته شوه او په پوره اطمینان د ټوپك خاوندانو ته ملك میدان شو او هر یو له خپل ټوپك نه په استفادې وهل، ټکول، وژل په دولتي او د خلکو په شخصي شتمنیو په پوره بېرحمۍ سره چور او تالان پیل کړ، په دغه تلان کې د ډېرو نورو بېوزلو په شان د فیروز کور هم بې پوښتنې پاتې نه شو او په پرله پسې توګه یې په رڼا ورځ کالي له کاله یوړل شول .

ما چې د هغه بې شمېره کتابونه او ښکلی کتابتون لیدلی و له مودو مودو لکه د مجنون په څېر د هغه د کتابونو د بیا لیدو او لوستو لیواله وم او د همدې لېونۍ مینې په هڅو نه بالاخره کابل ته ولاړم د فیروز ښکلی کتابتون زما زړه دومره تسخیر کړی و چې تر ټولو لومړی د همدوی کور ته ولاړم، دروازه مې وروټکوله یو سړی راووت له سلام او روغبړ نه وروسته مې ترې په بیړه پوښتنه وکړه وروره! ښښه غواړم دا خو د فیروز کور و ته یې پېژنې؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه موسکی شو او وې ويل: دومره ژر دې هېر کړم ته فلانی نه يې؟ زه خو دې پېژنم د همدې خبرې په اورېدو ما هم وپيژنده بيا ورغاړې وتم او لاسونه مې ترې چاپېر کړل خو دا هغه فيروز نه و چې پخوا ما ليدلی و اوس يې پر مخ غوښې پاتې نه وې رنګ يې سپېره و او شونډې يې د ډېرو کړاوونو او مصيبتونو له مخې تورې ګرځېدلې وې، زه يې په داسې سپېره ليدو ډېر خواشينی او اريان دريان شوم خو هغه زما په ليدو ډېر خوښ او خوشاله و، سمدستي يې کور ته ننه يستم، په يوه کوټه کې يې يو شکېدلی او پېوند پېوند خيرن ټغر غوړېدلی و پرې کښيناستو خو زه ډېر حيران وم ځکه چې دا کوټه ما مخکې ترګ دې شپېو هم يوځل دوه ليدلې وه، سرې غالۍ، بالښتونه او سره ښکلې توشکونه پکې غوړېدلي وو او په چاپېره الماريو کې ډول ډول انتيك شيان په ښه ترتيب سره اېښودل شوي وو، زه خو د دغو صحنو په ليدو نور هم دردمن شوم هرڅومره چې مې فکر په بله اړوه نه اوښتو هېڅ صبر مې ونه شو زړه نازړه او په ډېر احتياط سره مې ترې پوښتنه وکړه. فيروزه! هغه فرش ظرف او کتابونه څه شول؟ د هغه سترګو ته غټې اوښکې راغلې شونډې يې ورپېدې او په پړسيدلي ژړغوني آّواز يې وويل: ډېر يې چور شول او څه چې پاتې وو هغه مې له ډېره مجبوريته او بدې ورځې د نفقې لپاره وخت په وخت وپلورل او له تا څه پرده ده دا دې اوس بيا په کور کې د خوړو څه نه شته له بلې خوا د يخنۍ موسم هم په رارسېدو دی حيران يم چې څه وکړم؟

څو ساعته مو د زړه خواله سره وکړه د هغه دا دردوونکی حالت زياتې ما ته د زغم وړ نه و او د هغه په ليدو زما د زخمي زړه پرهرونه نور هم څېرېدل، غوښتل مې چې ترې ولاړ شم په وچ زور مې تروې ځان راخلاص کړ. د دغې ځوروونکي پېښې تر ليدو وروسته مې نور په کابل کې د شپې تېرولو وس پاتې نه شو له واره پېښور ته راستون شوم خو د هغه د ژړغوني آّواز انګازې مې په غوږو کې وې او آّرام يې راباندې حرام کړی په پېښور کې مې د خپلو ملګرو او دوستانو يو څه مرسته او کومك راغونډ کړ او له يو څو ورځې وروسته بيا په خورابيړه د کابل په لور روان شوم او د لارې په اوږدو کې مې يوه اندازه ضروري سودا هم له ځانه سره واخيسته، کابل ته ورسېدم په ټيکسي کې سپور او تر کوره ورسېدم، يودا مې د دروازې څنګ کې کېښوده او بيا مې دروازه وډبوله، لږه شېبه تېره شوه بيا مې وډبوله په دا ځل د ګاونډي له کور نه يو تن راووت ما سمدلاسه ترې د فيروز پوښتنه وکړه خبره څه ده ژر شه وايه :

ګڼ خلك نور هم راټول شول او يو تن راته داسې وويل تا ته به معلومه وه که نه چې فيروز خپل بچي ډېر نازولي ساتل او حتی په همدې سختو شرايطو کې يې هم په نازل پالل، د کور ټول اسباب يې خرڅ کړ خو کوچنيان يې وږي، تږي نه کړل اوس يې چې هر څه ختم شوي وو او په دې موجوده قحطۍ کې يې بل هېڅ مدرك هم نه درلود نو د خپل اولاد د لوږې او تندې د زغم نه ونن يې څلورمه ورځ ده چې ځان يې پخپله وژلی او له مرګ نه را وروسته يې اولاد او ښځه هم مونږ ونه ليدل خدايزده د دغه خونړي سېلاب څپو کوم خوا يوړل .

پېښور 1374 کب 17

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پټه خبره

پرون څو زلميو بيا بيا د ملك اكبر خان پوښتنه وكړه، د ورځې زاره په چاودېدو وه خو پوره تياره لا خوره نه وه او د اسمان په لمن كې لمر لكه د ژمي نارنج پر تورو غرو باندې تګ ژېړ ښكارېدو د مرغيو سيلونه د چنارو پر لوري راسر وو او په دېرو كې د ډول، ډول اوازونو شور او زوږ و چې پر دغه لمونځ قضا وخت هماغه مخكيني مېلمانه بيا راغلل، موټر يې پر سړك ودراوه او د ملك صيب د كور ور يې ورو ورو ور وټكاوه، ملك د ګلانو للون كاوه، اخوا دېخوا يې وكتل كوم ماشوم يې تر سترګو رانغى، په خپله يې بسم الله كړه او د وره په لوري ولاړ، بهر يې له ولاړو زلميو سره ښه په ورين تندي روغبړ وكړ، تر دې وروسته يو تن چې د كارتوسو ډكه غاړكى يې پر اوږې وه د لنډې شېبې له پاره له ملك صيب سره ګوښې وپسېده او بيا سم له واره موټر ته وختل، ملك حيران او شكمن شانتې ښكارېده؛ خو څه يې كړى واى. د دوى په وړاندې بې وسه و، پرتېوله را يې ډېرې خبرې په زړه كې تېرې شوې، كله به يې ويل هسې نه چې زما جايداد او دولت ته يې كوم چل جوړ كړى وي، بيا به يې له ځانه سره ړلى سوچ وكړ او ويل به يې نه داسې خو نه ده، اوس خو هغه پخواني نيستمن هم له مونږ نه ډېر مال او دولت لري، تر لږ فكر وروسته يې بيا له ځانه سره وويل، لكه چې زما مشرى او ملكى ته يې چل ړلى كړى وي، تر لږ ځنډ وروسته يې په خپله دا پوښتنه هم ځواب كړه او ويل يې دا خو بېخي غلطه ده، نه نه داسې هم نه ده، اوس خو هر سړى ملك دى او د خپل مټ په زور پرېكړې كوي. پر ټوله لار يې له ځانه سره همدارنګه پوښتنې او ځوابونه اړول را اړول په فكرونو كې ډوب و، شېبه پر شېبه يې ډول، ډول اټكلونه كول، چې نوې جوړې شوې ودانۍ ته ورسېدل او سترګې يې له هغه چا سره مخامخ شوې، چې د دى لارې يې څارلې، ملك صيب چې تر څو له موټره را كوزېده، هغه د موټر څنګ ته رانږدې شو، له ملك سره يې په خوشالۍ او ورين تندي ستړې مشې وكړه او په ډېره پسته او خوږه ژبه يې د كور كلي احوال ترې وپوښته، په ورو ورو ګامونو يې له خلكو لږ وړاندې او ګوښې كړ او د خپلې غوښتنې په اړه يې د خبرې سر راواخيست. د ملك حواص ورو ورو خړېدل او روحيات يې هم ساعت پر ساعت خرابېدل، له ډېرې غوسې سور او شين شو، خو چې شا او خوا يې كتل او فكر يې كاوه هېڅ يې له لاسه پوره نه وو او قوماندان صيب به په ډېرې سپين سترګۍ خپلې خبرې بيا بيا راغبرګولې خو ملك ورته همدا يوه خبره كوله چې پوله، پټى، ملك مال او دولت هر څه چې غواړې در كولاى يې شم، خو دا غوښتنه دې ناشونې ده .

خو هغه چې پر بچه ولاړ او د كشمير ننداره يې كوله، د خپلې ځوانۍ په غرور مست و په سترګو كې يې حيا او شرم نه وپاتې او په خپلې غوښتنې يې بيا بيا ټينګار كاوه او بالاخره له پرېكړې نه مخكې يې ملك ته وويل. چې دا كار خو په زوره هم كولاى شم، خو ستاسې د احترام په خاطر دا نن شپه تاسې ته مهلت او تردې وروسته يې په كور وسپاره، له ډېر غم او خپګان نه په لږه شېبه كې د ملك په رنګ كې ځمكه او اسمان بدلون راغلى و شونډو يې له هيبته تورې اوښتې او پترې يې نيولې وو او مخ يې هم لكه كور كمن ژېړ اوښتى و، ميرمنه يې چې يوه هوښياره ښځه وه، د ملك په ليدو له واره پوه شوه، چې څه خبره خو شته! له لږ صبر او استقامت وروسته يې له ملك څخه پوښتنه وكړه، څنګه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوخته راغلې، خیر و چېرته تللی وې؟ له ما سره سودا وه، جومات ته مې ماشومان درلېږلي وو هلته هم نه وې، ملك لږه سا واخیسته او له ډېرو خبرو یې خوله ونیوه، یوازې همدومره یې وویل هغه زمونږ د فلاني نوکر زوی غوښتی وم، څه کار یې و او بیا نېغ په نېغه خپلې کوټې ته ولاړ، تر نیمې شپې یې نفلونه وکړل بیا یې قرآن شریف راواخیست، پر مصلې ناست او سبق یې وایه، چرګبانګ مهالې تر هغه چې رڼا یې لکېده ملك پر قرآن پړمخې پروت او پر وښکي یې نرۍ وینه را ماته شوې وه .

22غويی 75

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وړه زړه

دا ملك د پښتنو دی، مونږ ټول پښتانه یو، زمونږ پلار نیکه پښتانه تېر شوي او د پیړیو راهیسې مونږ پښتانه یو د زمان کاکا په زړه او خیال کې به داخبرې ګرځېدې او بیا چې به یې د خپل فکر نیلی په چم ګاونډ او خپلو خپلوانو وځغلاوه ویل به یې چې ټولو ګاونډیانو خپلې پېغلې خویندې او لوڼې واده کړي او چې له خپل ځان نه به یې خپلو مشرانو او کشرانو ورونو او خویندو ته پام شو چې هغوی هم خپلې پېغلې ودوي نو بیا به یې له ځان سره وویل :

رښتیا چې خور ولور د ساتلو شی نه دی ګنې د امان کاکا پښتون ضمیر دا کله منله چې خور، لور چا ته ورکړي. ده لا د همدې مشورې سر لتاوه چې خور یې بیا راغله له ورانه په خندا وه او ویل یې لالا خپه کېږه مه دا ځل بیا مطلبي راغلم او تر هغې به ځم راځم چې دا شیروار وشکیږي. ښه راوکړې او خوله راته خوږه کړې لالا خلك پردو او نابلده خلکو ته خپل صفتونه کوي زه به درته د ځان څه صفت کوم تا ته هر څه معلوم دي مام پیجني او خوریا دیم د هغې پوهې ته خو هسې هم کلیوال هك پك ګوته په غاښ دي او وایي چې د ویښې مور نه زوی تښتوي شکر له هر چا ښه دی پاکولته یې ویلې پاکولته یې دی داسې نه چې څوك به لور را نه کړي، هر سړی یې په منډه راکړ خو د زرو قدر په زرګر وي او بیا یې دا خبرې د ښې غوښې ښه شوروا وي. بده ښځه تنګه پنه ده. بده ښځه کړه پښتۍ ده ماته به شي خو سمه به نه شي، ژبه د زړه کنجي ده ژبه د عقل تله ده، سپوږمۍ له اولې شپې مالومیږي ښځه د پلار د کوره .... دا خبرې یې داسې په ترتیب وکړې تا به ویلې چې د ښځو په هلکه کوم علمي سیمینار ته خپله لیکلې مقاله لولي ما ته دا ټول نیك خویونه او اخلاق په خپلو وریرو کې ښکاري، زما مې خپلې وریرې په بل چا پېرزو نه دي ما ته خپلې وریرې ګرانې دي، ما ته له هر چا ښکلي او ښایسته ښکاري ورك دې پردي شي خپل خو خپل وي، که پېر خس شي هم د مرید بس شي زما همدې سره پرده او ګوزاره کېږي لالا! زه د پلار له کوره ځان نه شکوم خدایزده کومه ورځ نیمه به ژوندۍ یم او که نه؟ پرېږده چې دا د پلار کور مې نورم زما شي لکه اوبه چې په ډانګ نه بېلېږي دا بچې مو هم داسې نوك او ورۍ شي، لالا کاشکې خور او لور په کور د ساتلو شي وی؟ هر چا به ساتلې دادادې خدای وبښي زه چې پرې څومره ګرانه وم هومره یې په لرې او پردو خلکو کې ګوزاره کړم، د ښځو برخې خوارې وي خپلو کورونو کې پردۍ وي، زه خو ستا خپله خور یم پردې چا ته خو یې درنه نه غواړم، هغه دې هم خپل خوری دی .

لالا زه خو هم پښتنه یم که په پښو مې وهې په سر به راځم او که پر سر مې وهې په پښو به راځم ما هغوی ته مه کموه او مه مې په نذرونو و زیارتونو سره کوه ما په دومره لویه دنیا کې ستالمن ونیوه تا ته مې ځولۍ وغوړوله تشه او بېنوا مې مه پرېږده سپین سرې له راتلو سره سمه د لالا سره پیتاوې ته په کټ کې کښیناسته او دا ټولې خبرې یې له سترې مشي وروسته په یوه سا وکړې سپین ږیري لالا ورته غوږ اېښی و ښه، هو، ښه یې ورته کول سر یې ښوراوه او ټالۍ یې وهلې او په خپلو سوچونو او فکرونو کې ډوب و هغه په دوه جالو کې ګیر و، له وې خوا که پر خور مهربانه و، له بلې خوا په لور هم زهېرېده، سپین ږیری لالا فکرونوپه مخه کړ او په زړه کې به یې عجیبه خبرې اوښتې را اوښتې، زما لور خو لا پېلغه شوې هم نه ده د کلي خلك به څه وایي. وایي به چې پرې تنګ شوي ساتلای یې نه شوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ يې نه شوه ورکولای ځکه يې خامه خو له وړه جلۍ مېره ته ورکړه بيا به بل فکر ورغی خلك دې هر څه وايي اختر خو پټ مېره نه دی ما پسې به څوك څه ووايي، ما خو ټول کليوال پېژني او بيا که کوم کس نيم پيدا هم شي نو سين خو د ... په خوله نه مرداريږي څوك چې بل سپکۍ، ځان سپکۍ مونږ به د چا خولې ته کلپ اچوو؟ پردي چاته خو يې نه ورکوم نه پرې مال دولت اخلم رښتيا چې ښځه خو هسې هم پردی امانت وي اول اخر به يې کوم کس ته ورکوم او بيا دا خو مې خپله خور ده د يوې چرګۍ خلك يو او بيا يې سمدستي په لنډه شېبه کې بل فکر وجنګوه: او که غلې غوندې ښه ورته وکړم خو اوبه چې هر څومره پټې لاړې شي له ورايه څرګندېږي او په تېره بيا د ورکړې راکړې خبره به په دې کلي کې څنګه پټه شي؟ دا خو اوښ په بده وهل دي لنډه دا چې لور يې ورکړه او څه موده وروسته واده هم شوه او خدای يو زوی هم ورکړ، خو د زوی پل ور پورې ښه نه شو د هلك خوشالي لا په کور کلي کې خپره وه چې له مسکونه خونړی توپان راوالوت او زمونږ په ملك کې د سرونو په فصلونو لو ګډ شو په رښتيا يې د نيمې ورځې حکومت د سلو کلونو کورونه ورانوي او پېغلې بې څوکه کوي په تېره بيا پښتنې پېغلې چې تر قيامته پورې د مېړه په نوم خپله ځواني خاورې کوي او سر سپينوي د دې خونړي سره توپان اولې څپې د همدې پېغلې اوربل ميرات کړ او د نورو لاس ته يې کښېنوله او د دې غريبې برخه لانوره هم ځکه خواره وه چې څو اوونۍ وروسته يې هغه رنځور غاړې کلك زوی هم په پلار پسې لاړ او د ژوند خوږ نعمت ته يې مخ ښه ووېله ورځې شپې پر کونډې خوارې تېرې دې شپږ اوه مياشتې وروسته يې خدای د ځواني مرګ مېړه په وروستۍ نخښې خولۍ بيا ډکه کړه او د بل زوی مور شوه. دغه بې اسرې کونډه چې د عمر نولسم خزان يې لکه د شپېته کلنې زړې بوډۍ غوندې سرتك سپين او مخ يې هم له ډېرو کړاوو ګونځې ګونځې کړي و که څه هم په خپلو خپلوانو يې ډېر قدر و ټولو به يې زړه ساته او هر چا به يې زوی ناز وه، خو بيا هم انقلاب په زړه سورۍ کړې وه ډېر کلونه په منځ کې تېر شول يتيم هم زلموټکی شو، له اتلسو کالو وروسته کونډې خپل بکس پرانيست او د خپل واده د جامو په ليدو سره بې اختياره پر بکس پرېوته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډاکټر صیب

ډاکټر صیب په اونۍ کې یو، دوه ساعتونه په مونږ هم درلودل هغه به ټولګي ته تر راننوتو وروسته د معمول په څېر د یوه تن دوو نه د روغ جوړ پوښتنه کوله او شېبه وروسته به یې په ډېره ښه او خوږه لهجه درس پیل کړ، هغه په خارج کې دوکتورا اخیستې وه او په خپل مسلك کې په ځان غره و وخت ناوخته به یې د سبق په منځ منځ کې یوه نیمه ټوکه هم کوله که هغې به له موضوع سره اړیکې درلودې او که نه، په ټولګي کې به د ویلو وه او که نه خو ډاکټر سیب د خپلې خاصې لورینې له مخې د زده کوونکو د خندولو په خاطر ویله خو تر ټولو په زړه پورې د هغه د خارج کیسې وې، چې د کال تر پایه نه تمامېدې او د مثال په توګه په یې کارولې کله کله به دومره اوږدې او خوندورې هم شوې چې د سبق شېبې به په کې ختمې شوې او ټاکلې موضوع به له یوې اونۍ بلې اونۍ ته پاتې شوه. شاګرادن به د اړتیا پر وخت پرته له کوم بندیز او اجازې څخه له ټولګي وتل او راننوتل ډاکټر صیب د حاضرۍ پابند هم نه و خو کومه ورځ نیمه به یې چې په دویم لین کې لومړۍ څوکۍ تشه ولیده نو بیا به یې ضرور حاضري اخیسته او پر غیر حاضرو به یې ښه د زړه له کومې بخۍ کولې، خو له غوسې سره سره بیا هم ډاکټر صیب ډېر شفیق او حلیم مزاج درلود چې د شاګرد له ناورغۍ او تکلیف نه به خبر شو حاضري به یې سپینه پرېښوده خو لکه چې زما د څنګ ملګرى نه و تر څو چې به یې ما عذر وایه نو د حاضرۍ په کوټه به یې بیا ورته ورته د غضب کرښې راکښلې وې زما ملګرى ډېر هوښیار، با ادبه او حیا ناك و هغه د ډېرو نیکو اخلاقو خاوند و، تل به یې د استادانو احترام کاوه، ټول استادن او شاګردان ترې خوښ وو هغه په ټولګي ته تر راتلو د مخه نوى سبق له ځانه سره لوستى و په کوم ټکي چې به پوه شوى نه و د پنسل کرښه به یې ترې چاپېره کړې وه او د خپلو سبقونو تر څنګ به یې تل اضافي مطالعه هم کوله او له استادانو سره به یې ډېر ښه علمي بحثونه کول چې زه او زما غوندې ډېر شاګردان به د هغه علمي پوخ استدلال ته لاس تر زنې ناست وو .

زمونږ په ټولګي کې د ډاکټر صیب دې عمل ته د هېچا پام نه و یوازې زما ورته خداى پام کړى و او فکر به مې کاوه چې لامل یې پیدا کړم هغه به دځان پوهولو پر خاطر ډېرې په ځاى معقولې او سمې پوښتنې کولې خو نه پوهېدم چې د هغه په غیابت کې ډاکټر صیب ولې ډېر خوشاله ښکارېده د شونډو پر سر به یې نرۍ موسکا وکړه او په ډېره رموزه کنایه کې به یې وویل: نن که خیر وي پوښتنې نه شته پروګرام به ورسووا\" حال دا چې د کال تر پایه د درسي کتاب پنځم مخ ته ونه رسیدو ما چې به د ډاکټر صیب په دغه مرموزه کنایه کې د خپل عقل منداټو هر څه څرخاوه د همدې یوې توجیه کوچ به ترې راووتل او هغه دا ما به ویل چې ګنې ډاکټر صیب په پوښتنه خپه کېږي تر دې فکري شاربنې وروسته به راته د خپل ملګري عیب په ګوته شو او هغه دا و چې هغه به په وړه خوله کله نا کله داسې پخه او ژوره پوښتنه وکړه چې د داکټر پر تندي به د لوړ علمیت سره سره بیا هم خولې را ماتې شوې، د ځواب تر پایه به یې څو څو ځلې شونډې پر ژبه لمدولې او د وینا په ترڅ کې به یې په یوه ځانګړي رموز کې د عجز الفاظ له خولې راوتل زما ملګري چې به د ډاکټر صیب دا پرېشانه حال درك کړ رنګ به یې تك سور او بیا به په خپله پوښتنه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښېمانه ښکارېده اګر که ډاکټر صیب ډېر اندك رنجي هم و، په امتحان کې به یې سهي ځواب پدې غلط حسابوه چې تا (سین) ته درې غاښې نه دي ورکړي او یا د نوم پر ځای دې ولې (ضمیر) کارولی دی او دا دې .... خو هغه چې به د ځواب ورکولو پر وخت د ډاکټر صیب وچې شونډې او ډډ اواز واورېد، نو د ډېرې حیا نه به یې د ډاکټر صیب له هرې خبرې وروسته ویل صحیح ده درسته ده پوه شوم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوه سپږه په (22) لکه افغانۍ

د کوچني اختر لومړۍ او که دویمه ورځ وه. خدای مې دې غاړه نه بندوي د حاجي لالا سره یوازې د مبارکۍ په نیت د منتظم کاکا کور ته ولاړم، هلته ناستو ګڼو مېلمنو په ورځني سیاست مجلس تود کړی و، هر یوه د سیاسي خاطراتو دیوانونه پرانستي وو او د انقلابي نادودو یو یو نکل یې ترې کاوه که څه هم د ټولو مېلمنو کیسې نکلونه او ترخې خاطرې د لیکلو وړ وې خو ماته تر ټولو د مزاري ځوان ډاکټر نوري غمجنه کیسه بیخي عجیبه ښکاره شوه، چې ویل یې \"چندی قبل از مزارشریف قصدی سفر کابل کردم به همین نیت از خانه به سوی اسټاه کابل در مزار شریف در یك موتر فلانکوچ شیشتم و به سوی کابل روان شدیم پس از سه چهار ساعت از پلخمری هم گذر کردیم نزدیك همینچا از سوی تفنګداران موتری ماتوقف شد، یکی از تفنګدارن مرا اشاره کرد و گفت این جا بیا من هم موتر را ترك کرده زود نزدیکش رفتم، گفت از کجا استی؟ گفتم از مزار شریف گفت بیا دورغ نه گو من تورا میشناسم اوغان یی من به خاطر پاکی این اتهام به قسم و قران خوردن پرداختم خلص این که پس از بسیار قسم عذر و زاری او از صرحت لهجه ام یعقین کرد و دوباره به موتر برگشتم، به شخص همجوارم امد و گفت سوی انښتانم ببین، میشناسی دردستم چیست؟ شخص همجوارم نا چار جواب داد بلی صیب این شبش است؟ گفت می فهمی بچیم بی خرچ شدیم این را میفروشم به گو چند میخری؟ رفیقم هیچ نه گفت. پس از سکوت کمتر به لهجه دهشتناك گفت کر کونی، باه کی می گویم؟
پس شبش را دست به دست تسلیمش کرد و گفت این که تو از خود هستی خیر است فقط دولك بتی؟!

چاره نه بود مجبور شد دولك افغانی را برایش حساب کد توفنګدار از موتر پاین شد و عاجل باز به موتر برگشت گفت وطن دار خفه نه شو امانت ام را بتی به این قیمت نه می فروشم بسیار تاوانی می شوم اشبش دلیر که از ایام کثیر با تفنګدار کورسنه بود از موقع حساب کردن پول استفاده عظیمی کرده و فرارنموده بود از وحشت و دهشت اینها همه مسافرین خاموش و ازحرف گفتن حق عاجز بودند .

رفیقم ناچار بود و نه می فهمید که با این تاجر بزرگ ملی چه نوع معامله کند؟ در همین مصیبت بود که تفنګدار باز صدا کرد، باکی گفتم من باتو سودا نه می کنم ینه پولترا بگی و امانتم را بتی؟!
ما و دېران این سو و آّن سو می دیدیم اگر اشپش غضب زده پیدا شود که باز گفت یا امانتم و یا بیست لك افغانی توانش را پتی و اگر نیست خونت را قرت میکنم؟

تفنګ را از سر شانه اش پاین کرد و مرمیهاش را زیر کرد. مسافرین وار خطا شدند از ترس و بیم به رفیقم شور و فغان کرد و گفتند هر چه که اینها می گوید درست است شما ملامت استید مال و یا قیمت اش را تسلیم کنید. رفیقم چون جوان زیبا بود خاطر حیات جانش کمك کردیم و مبلغ مذکور را پرداختم .

1376سلواغه 20

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کینږ لاس

له ډېرې مودې راهیسې مې د کابل لیدل پر زړه ارمان و کله چې په خلکو په ښکلا یادوه ما به من من غوښې اخستې او ویل به مې خدایه شکر چې زمونږ د وطن ناوې هم دومره ښکلې ده، چې اغیارو ته هم په کې د خو ځای نه ښکاري او ستایې. په ښکاره که څه هم له ډېرې خوښۍ په جامو کې نه ځاییدم، خو د زړه وزرې به مې د پتنګ په څېر د مینې او عشق پر بلو ډېوو سوځېدې او د هوس هم دا یوه لمبه پرې تېرېده چې کابل ووینم او ذهن به مې د نالیدلي لیلا رنګارنګ ښکلي تصویرونه د سترګو په اینو کې انځورول او هره شپه په د خیال پر وزرو له مېوو نه په ډکو شنو باغونو، تازه چمنونو، تر شنو شنو ونو لاندې په پاکو او ارتو جادو کې د لوړو دنګو او

زړو وړونکیو ودانیو تر څنګ د داسې یو جنتي ښار په زړه کې ګرځېدم، چې له څلورو خوا وو سپینو او شنو لمنو غرونو په خپلې غېږېکې نیولې و د نسیم په خوږو نغمو به یې للو کاوه او هره شېبه یې پرې ګلورینې ورېمې اورولې، له مانه به ځینې وخت په دغه نا اشنا خوندونو کې ځان ورك شو، واه واه به مې کړل له ډېرې خوښۍ نه به مې سر وښوراوه چې راویښ به شوم سترګې به مې وموښلې او په غټو غټو به مې ګرد چاپېره وکتل داسې تیاره به خوره وه چې سترګه په سترګه نه ښکاریده سړه سمخه به وه، یوازې له ګړونج نه به مې د موږکانو د پښو ښکالو او دکیررو شپېلي اورېدل چې د غنمو له ګوډي او د ډوډیو له سوزي تاوېده راتاوېده. چینچو به هم د ماشو غوندې ځانونه ناسو به نه ګڼل او له پورته ډاګو به یې تر کهار ایسته زما عادت وماته بیا تر سهاره خوب نه راته او تر ملا بانګه به مې سوچونه جنګول دا ځلې مې پرېکړه وکړه چې تر څو پورې به د خیال پر وزرو د خیالي باغچو ننداري کوم. اوس خو زمونږ سپېځلی ارمان پوره شو د خدای شکر الحمد الله شریعت نافذ دی او اوس خو څه مانع هم نشته نن چې جنتي کابل نه ګورم نو... په ټینګ عزم مې دا ځل د کابل د لیدو هوډ وکړ له کوره را بهر شوم او د موټرو تمځي ته مې ځان ورساوه، شور و زوږ و ګڼې موټرې د سورلیو په انتظار لیکه نوبت ته ولاړې وې دوه درې ګادي زما په مخکې ډك شول او لاړل خو ما د خپل عادت له مخې هغو ته ځکه زړه ښه نه کړ، چې زاړه او بېخونده ښکارېدل. د څلورم ګادي په تازه رنګ شویو ټیمانو مې هسې سترګې خوږې شوې ورپورته شوم او پر وروستي سیټ کښېناستم، ګاډی ډك شو او د کابل لار یې ونیوه پر ټوله لاره د سړك تر څنګ او ورسره د غرونو په لمنو او څوکو کې ځای پر ځای د پخوانیو ځواکونو غښتلې او پیاوړې پوستې او پرې ولاړ ټانکونه له ورایه ښکاره کېدل د سرو جنډو پر ځای پرې له برم او ویاړه ډکې شنې لوړې جنډې رپېدلې له ننګرهاره تر کابله ګام په ګام د سړك په دواړو خواوو کې پرتو سویو او ویجاړو شویو اثارو د مومن ولس د مېړانې او سرښندې ګواهي ورکوله موږ د هره شي ننداري په سړه سینه او پوره غور ځکه کولې چې زمونږ د موټر لړمون سوری و د جنازې د موټر په څېر ورو روان و او پر دې سربېره دوه درې ځایه وران هم شو. خو څه مو کړي وای له خپله بخته مو انګېرله چې په رڼا ورځ یې د موټر په رنګ شوي څرمن تېر ایستي وو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر خو نه و روغه کښتې وه لکه پر اوبو چې روانه وي ټول حواص خواص د هیلۍ وو د اوبو څاڅکی چې به تر سترګو شو استاد به ورو پر بریك پښه کېښوده لنډه دا چې شېبه پر شېبه به یې په مخ اوبه ورشیندلې او جل وهلې تنده به یې ورماتوله. له هر ځل ودرېدو سره به د استاد او د سورلیو تر منځ ناندرۍ وې خوزه بې پروا وم او سترګې مې له تېر وخت نه په پاتې آثارو کې ښخې وې ورسره به مې د هجرت ترخې او ستوتزمنې شېبې هم سترګو ته ودرېدې په حیرت او تعجب مې سوېو روسي ګاډو او ټانکونو ته کتل له دې شېبو مخ کې په ټول عمر کې په ما د خوښیو داسې خوږې شېبې نه وې راغلې په سترګو کې مې له ډېرې خوښۍ اوښکو موجونه وهل او د خدای شکرونه به مې ادا کول او د څنګ ملګري ته به مې د لمانځه، اوداسه، ږېرې او هجرت فضایل په دې نیت بیانول چې ما ویل که خدای وکړي او زما خبرې پرې تاثیر وکړي، خدای به په ثواب کې ما هم ورسره شریك کړي ما ورته په ډېر اخلاص او مینې د یو صحابي(رض) کیسه پیل کړې وه نیمه شوې لا نه وه چې موټر بیا ودرېد او یو تن د اوږدو څڼو او ګڼې ږېرې ښکلی ځلموټکی موټر ته راوخوت په لوړ آواز یې وویل: السلام علیکم په خیر راغلئ، ستړي مه شئ، که خپه کېږئ نه یوه پوښتنه کوم خو رښتیا به وایي مونږ ټول لاغلي وو چې هغه بیا خوله ډېره پسته کړه او ویې ویل چا چې د نن سهار لمونځ کړی وي چپ لاس دې پورته کړي د موټر زیاتره سورلیو لاسونه پورته کړل خدای مې دې غاړه نه بندوي که له چا نه په دې سهار قضا شوی هم و خو د دې خوښۍ له امله چې په ملك کې د لومړي ځل لپاره د لمانځه د کولو پوښتنه په جهر کېدله، ټولو لاسونه پورته نیولي وو. هغه په لنډه شېبه کې ټول تر سترګو تېر کړل او بیا یې په ډېر مات مخ وویل کاکا جانه !

ته دغه او هغه او... که تکلیف نه وي د لږې شېبې لپاره راښکته شئ وېرېږئ مه هېڅ خبره نشته فقط زمونږ ملګري یو څو خبرې درسره کوي د سورلیو شور زوږ شو، یوه شېبه په منځ کې تېره شوه په دې کې ما له وروستي سیټ څخه غږ کړ: ځئ چې ورشو، خیر دی څه پروا کوي زما په دې خبرو سره یو یو په کوزېدو شو تر ټولو وروستی زلموټکی راکېوت، د موټر دروازه یې په ګرز سره جوخته کړه لاندینو ملګرو یې د ټوپکو خولې نابېره موږ ته نېغې کړې پر ماشوو یې ګوتې اېښې وې او وار خطا لګیا وو هله قطار شئ ، لیکه ودرېږئ، یو یو ځئ تالاشي ورکوئ او موټر ته خېږئ، د خبرو شان نه و د ټوپکو زور و هر څه یې چې ویل مونږ منل زلموټکی له دروازې سره ولاړ و مونږ یو یو په وار ورتلو هغه فقط کینې لاسونه کتل او ساعتونه یې ترې خلاصول.

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**